دکوچني اختر دخطبې لارښود مؤرخ 1443/10/1هجری قمری مطابق :12 /1401/2هجری شمسی

# دوړوکي اختر مسائل او دشوال المکرم میاشت د روژو فضیلت

الحمد لله حمدا كثيراً، والله أكبر كبيراً وسبحان الله بكرة وأصيلاً، وأشهد أن لا إله إلا الله وحدَه لا شريك له تعظيمًا لشأنه، وأشهد أنّ سيّدنا ونبيّنا محمّدًا عبده ورسوله الدّاعي إلى رضوانه، اللهمّ صلّ وسلّم وبارك عليه، وعلى آله وأصحابِه وإخوانه. وسلم تسليما كثيرا اما بعد.

**ګرانو هيوادوالو!**

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

نن د وړوکي اختر لومړۍ ورځ ده چې داسلامي میاشت د شوال المکرم لومړۍ تاريخ دی.

هرکله چې مسلمانانو د رمضان المبارک په میاشت کې دالله تعالی د حکم سره سم د الله تعالی درضا لپاره روژې ونیولی ؛ کله چې هغه ورځ را ورسيده چې نورمسلمانان په کې د روژې په نيولو مکلف نه دي، دا ورځ ورته الله جل جلاله د خوښیو او خوشحالیو د لمانځلو ورځ وګرځوله ؛ ترڅو مسلمانان په دې ورځ کې د الله جل جلاله حلال خوراک او څښاک وکړي او د هغه په نعمتونو شکر وباسي او د خپلو خوښیو اظهار وکړي او دا خوښي يو له بل سره شريکه کړي.

کله چې په مدينه منوره کې ابوبکرصديق رضي الله هغه دوه کوچنۍ انجونې داختر په ورځ کې د دريا وهلو څخه منع کړی ؛ پيغمبرعليه السلام ورته داسې وفرمايل:( دَعْهُمَا يَا أَبَا بَكْرٍ إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَإِنَّ عِيدَنَا هَذَا الْيَوْمُ) متفق عليه

ژباړه: ای ابوبکره! دوی پريږده، بيشکه دهر يوم قوم لپاره داختر ورځ وي او نن ورځ زمونږ داختر ورځ ده.

د کوچني اختر په روځ مسلمان ددوه خبرو باندې خوشحالي کوي، يوه داچې الله تعالی ورته د رمضان په مياشت کې د روژو نيولو توفيق ورکړ او بل داختر په ورځ کې يي ورته د خپلو نعمتونوڅخه داستفادې اجازه ورکړه.

خو د يادونې وړه ده او ډير دشکر ځای دی چې د سږکال اختر د نورو اخترونو څخه متفاوت دی. نن ورځ مونږ اختر په داسې فضاکې لمانځو چې کفري طاغوتي اشغال له منځ تللی او په ټول هيواد کې دافغانستان داسلامي امارت اسلامي نظام حاکم دی.

لله الحمد والمنة نن ورځ نه بمبار شته ، نه د چا په کور چاپه شته، نه څوک وژل کيږي او نه دمظلوم ولس کورونيو ته د شهيدانو جنازې راوړل کيږي. چې دا ټول د حق د دلارې دشهيدانو او مبارزينو د قربانانيو نتيجه ده چې نن مونږ په ټوله معنا سره واقعې اختر لرو او دهيواد په هر ولايت کې او هرې ولسوالۍ کې داخترونو لمونځونه ادا کيږي.

بناءً او ويلای شو چې د نن ورځ داختر خوشحالي څو چنده ده. والله الحمد والمنة.

نن داختر خوشحالي ددې لپاره ده چې په خپلو تيرو عباداتو باندې خوښي ښکاره کړو او دالله تعالى په هغه مهربانۍ خوښي ښکاره کړو او اميد لرو ان شاء الله چې الله تعالى درمضان المبارک مياشت د روژو له برکته به مونږ ته زمونږ ګناهونه ښنلي وي ، اختر هيڅکله ددې معنا نه ده چې ګوندې مونږ دعبادت د قيوداتو څخه آزاد شو او دعباداتو تړغر تېول شو او مونږ ته د هر ډول حرامو اجازت راکړ شو او له دې وروسته چې هرڅه مو زړه وي هغه ترسره کړو او هرڅه وخورو.

نن هغه ورځ ده چې روژه تي ته د روژو اجر ورکول کيږي او داختر په ورځ کې ورته ښنه کيږي؛ ځکه وړوکي اختر ته ( يوم الجائزة) وايي. يعنې الله جل جلاله په دې ورځ کې پر روژتيانو خاص انعام کوي چې هغه د الله تعالى اجر او ثواب دی. په يو حديث شريف کې راځي:( فَإِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدِهِمْ يَعْنِي يَوْمَ فِطْرِهِمْ بَاهَى بِهِمْ مَلَائِكَتَهُ قَالَ: يَا مَلَائِكَتِي مَا جَزَاءُ أَجِيرٍ وَفَّى عَمَلَهُ؟ قَالُوا: رَبَّنَا جَزَاؤُهُ أَنْ يُوَفَّى أَجْرَهُ، قَالَ: مَلَائِكَتِي عَبِيدِي وَإِمَائِي قَضَوْا فَرِيضَتِي عَلَيْهِمْ ثُمَّ خَرَجُوا يَعِجُّونَ إِلَيَّ بِالدُّعَاءِ وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكَرَمِي وَعُلُوِّي وَارْتِفَاعِ مَكَانِي لَأُجِيبَنَّهُمْ، فَيَقُولُ: ارْجِعُوا فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ، وَبَدَّلْتُ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ " قَالَ: فَيَرْجِعُونَ مَغْفُورًا لَهُمْ) فضائل الأوقات للبيهقي (ص: 319)

ژباړه: کله چې ددوی داختر ورځ شي، الله تعالى فخر کوي په دوی باندې او ملائکو ته وايي: ای ملائکو د هغه چا عوض څه شی دی چې په خپله دنده پوره وکړي؟ ملائکې ورته ووايي: ای زمونږ پروردګاره! دهغه بدله داده چې هغه ته دې دهغه مزدوري په پوره توګه ورکړل شي. الله تعالى ووايي: ای زما ملائکو! زما بندګانو نارينه او زنانه ؤ زما فرض يي پرځای کړل بيا راووتل او زما څخه دعاء غواړي. زما دې په خپل عزت قسم وي او زما دې په خپل جلال قسم وي او زما دې زما په لوړه مرتبه قسم وي چې زه به ددوی دعاګاني قبلوم. بيا به الله تعالى ووايي: لاړشئ ما درته ښنه وکړه او ستاسو بدۍ مې په نيکيو بدلی کړلی. راوي وايي: بيا به دوی کورونو ته په داسې حال کې وګرځي چې ګناهونه به يې ښنل شوي وي.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (ولله عز وجل عند كل فطر من شهر رمضان كل ليلة عتقا من النار ستون ألف فإذا كان يوم الفطر أعتق الله مثل ما أعتق في جميع الشهر ثلاثين مرة ستين ألفا ستين ألفا) الترغيب والترهيب. قال المنذري: وهو حديث حسن لا بأس به في المتابعات

ژباړه: الله تعالى د رمضان په مياشت کې په هر روژه ماتي کې دجهنم له اور څخه شپيته زره خلک آزادوي. کله چې داختر ورځ شي الله تعالى داختر په روځ دټولی روژې دمياشتې ديرش برابره په اندازه خلک د جهنم له اور څخه آزادوي، شپيته زره، شپيته زره.

په رمضان المبارک کې که چا عبادت کړی وي او ددې مياشتې له فيوضاتو څخه مستفيد شوی وي نو نن ورځ به تر او تازه او خوشحاله وي او هغه چاچې د رمضان په مياشت کې –کماحقه-عبادت نه وي کړی او شپې او ورځې يې په غفلت تيری کړی وي، هغوی به نن دخپل ضمير په محاسبه کې پاتې راځي. ځکه چې دوی تاوان کړی دی.

خو بياهم مايوسي نه ده په کار، اوس هم کولای شو چې الله تعالى ته رجوع وکړو او خپل اعمال درست کړو او دالله تعالى په راضي کولو کې کوښښ وکړو.

اختر چې په اسلام کې د خوشحالۍ ورځې او شپې دي مسلمانانو لره په کاردي چې خپل منځي اختلافات ، نفرتونه، او دښمنيو څخه تيرشي او په خپلو منځو کې صلح وکړي او يو بل ته ګذشت وکړي ترڅو له يوې خوا داختر خوښي د هرچا زړه ته ور داخله شي او هم ورته الله تعالى ښنه او مغفرت وکړي. ځکه هغه کسان چې د بل سره د زړه بدي لري عبادتونه يې معلق وي. په يو حديث شريف کې راځي:(عن أَبي هريرة - رضي الله عنه - : أنَّ رسولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - قَالَ : تُفْتَحُ أبوابُ الجَنَّةِ يَوْمَ الإثْنَيْنِ ويَوْمَ الخَمْيسِ ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لا يُشْرِكُ باللهِ شَيْئاً ، إلاَّ رَجُلاً كَانَتْ بينهُ وَبَيْنَ أخِيهِ شَحْناءُ فَيُقَالُ : أنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا ! أنْظِرُوا هَذَينِ حَتَّى يَصْطَلِحَا ! ) . رواه مسلم .

ژباړه: دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ددوشنبې او پنجشنبې په ورځ دجنت دروازې برسیره کیږي او هرهغه چاته ښښنه کیږي چې دالله تعالی سره یې شرک نه وي کړی؛ مګر که داسې سړی وي چې دده او دده د ورور ترمنځ بدبیني وي، ویل کیږي چې دوی ته ترهغې مهلت ورکړی چې خپل منځ کې صلحه وکړي، دوی ته منتظرشئ ترڅو صلحه وکړي. یعنی عبادات یې موقوف وي .

- **د اختر فلسفه**

د اختر لویه فلسفه دالله تعالی رضا حاصلول دي. همدا راز په عیدګاه کې په راجمع کیدلو سره د مسلمانانو شان او شوکت ښکاره کیږي.

د الله تعالی ددې نعمت شکر ویستل دي چې مونږ ته یې دروژې نیولو توفیق راکړ او نن ورځ یې دشکرانې لمونځ اداء کوو.

مسکینانو او فقیرانو سره داختر په ورځ کې همکاري کول او هغوی ته دسرسایي ورکول، ددې ورځ لویه فلسفه ده.

**د اختر په ورځ کې مستحب عملونه:**

داختر په ورځ کې لاندې کارونه مستحب دي:

1. داختر په ورځ غسل کول .
2. داختر لمانځه لپاره نوی یا پاکې جامې اغوستل.
3. دمسواک استعمال.
4. دخوشبوی لګول.
5. د اختر لمانځه ته دتللو څخه دمخه دخوږو خوږو خوړل؛ لکه خرما او داسې نور.
6. که چیرې دلمانځه ځای نږدې وي پیاده تلل ورته مستحب دي.

- **د اختر د ورځو ټولنیزې لارښوونې:**

اختر دلهو او لعب ورځ نه ، بلکې داختر ورځې د عبادت او شکر ورځې دي.
ښایې چې د اختر په ورځو کې دلاندې ټولنیزو ادابو او لارښوونو خاص خیال وساتو:
۱ـ د اختر په ورځو کې خیرات او صدقات ورکول او دبیوزلو، فقیرانو، کونډو، یتیمانو سره همکاري او مرسته کول.
امام ابن الجوزي لیکي: هغه څوک چې شتمن وي باید دفقیرانو اوبې وزلو سره مرسته وکړي او دخپل توان په اندازه دې ورته خوراک ورکړي.
په حدیث شریف کې راغي د ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي پیغمبرعلیه السلام به د وړوکي اختر په ورځ مونږ ته امرکولو چې خپلو فقیرانو وررونو ته د خوراک لپاره څه ورکړو او فرمایل به یې: څوک چې یو کس ته خوراک ورکړي له اور څخه به آزاد شي او چاچې دوه کسانو ته خوراک ورکړ د شرک څخه به ورته براءت ولیکل شي او د نفاق څخه به ورته براءت ولیکل شي. او چاچې درې کسانو ته خوراک ورکړ جنت به ورته ولیکل شي او الله تعالی به ورته د جنت حوري ورپه برخه کړي . پیغمبرعلیه السلام به مونږ ته امر کولو چې ډوډۍ اوغوښه ورکړو، یا ډوډۍ، غوښه او تیل ورکړو، یا داچې ډوډۍ او شیدې ورکړو. (التبصره لابن الجوزی)
۲ـ باید په دې ورځو کې د صله رحمی ځانګړی خیال وساتو ، صله رحمي قطع نه کړو او په دې هیله د خپلوانو او دوستانو پوښتنې او اختر مبارکی ته دی ورشو.
۲ـ داختر په ورځو کې د اسراف څخه ځانونه وساتو، په خوراک او پوشاک او نورو مصرفونو کې د اسراف نه ځان و ساتو.
۳ـ د اختر په خوښیو کې دمنفي سیالیو، ریاء او ځان ښودنی، ټولنیزو خرافاتو او آفتونو څخه ځان وساتو.

۴- کوچنیانو ته په داسې ډول نصحیت وکړو چې کورنۍ یې و نه زوروي. کوچنیانو او تنکیو ځوانانو ته دی توصیه وشي چې په دې مبارکې ورځ کې د هوایي ډزو، پټاقۍ الوزولو سره د خلکو زورولو نه ډډه وکړي، ترڅو د هیڅا دغه د خوښۍ او خوشحالۍ ورځ په غم او اندیښنو بدله نشي. بلکه په مسکا او تبسم سره د خلکو مخې ته ور شو او د نورو په ژوند کې هم مسکا خپره کړو.
۵-داچې اختر دخوراک او څښاک ورځې دي بناءً په کارده چې په دې بختوره ورځ کې دمسلمانانو سره داختر خوشحالي یوځای ولمانځل شي او د اختر په ورځ کې دې روژې ونه نیول شي . پیغمبرعلیه السلام داختر په ورځ کې دروژې نیولو څخه منع کړی ده.
په یو حدیث شریف کې راځي: (عن أبي سعيد أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال : أنهاكم عن صيام يومين : الفطر والأضحى) مسند أبي يعلى، صحيح ابن حبان

ژباړه: د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه مو په دوه ورځو کې د روژو نیولو څخه منع کوم یو د کوچني اختر ورځ او بله د لوی اختر ورځ.

امام بغوي رح وايي: (اتفق أهل العلم أن صوم يوم العيد لا يجوز) شرح السنة للبغوي

ژباړه: علماء په دې کې اتفاق لري چې د اخترپه ورځ کې روژه نیول جواز نه لري.

- **صدقة الفطر ورکول:**

لکه په تیره جمعه کې مو عرض وکړ چې داختر داعمالو څخه یو مهم عمل هغه مسکینانو او فقیرانو ته صدقه فطر(سرسایه) ورکول دي.

که چیرې چا صدقه فطر نه وي ورکړی، باید صدقه فطر ورکړي. ددې لپاره چې د روژو حق مو په پوره معنا سره اداء کړی وي او د ختر په دې بختورو ورځو کې زمونږ او ستاسو په شااو خوا کې دفقیرانو او مسکینانو بچې هم زمونږاو ستاسو دبچو سره یوشان داختر په خوشالیو کې شریک شي، صدقه فطر ورکړو.

دصدقه فطر اندازه په لاندې ډول ده:

۱-نیمه پیمانه غنم یا د نیمه پیماني دغنمو اوړه ( د ۱۹۰۰ گرام) یعنی یو کیلو اونهه سوه گرامه.
۲-یوه پیمانه وربشي یا یوه پیمانه د وربشو اوړه( ۳۸۰۰گرامه) یعنی دری کیلو او اته سوه گرامه.
۳-یوه پیمانه خرما (۳۸۰۰گرامه) یعنی دری کیلو او اته سوه گرامه.
۴-یوه پیمانه ممیز (۳۸۰۰گرامه) دری کیلو او اته سوه گرامه.
که د کوم عذر په بنا سره چا نن ورځ صدقه ورنکړه، کولای شي داختر په ورځو او یا نورو ورځو کې یي ورکړي.

- **د شوال المکرم میاشتي د روژ فضیلت:**

حسن بصری رح فرمايلي دي: (خلک د دوامداره روژو څخه تیخته کوي. قسم چې مؤمن هغه نه دی چې یوه میاشت او یا دوه میاشت عبادت کوي، یا یو کال عبادت کوي او یا هم دوه کاله. داسې نه ده . الله تعالی دمؤمن دعمل لپاره کومه نیټه نه ده ټاکلې او مؤمن ترمرگ پورې دنیک عمل لپاره وخت لري).

که چیرې رمضان ختم شو زمونږ ستاسو په وړاندې داسې شپې او ورځې شته چې هر وخت په کې عبادت کیږي.

که چیرې د رمضان المبارک روژې خلاصې شوی خو د روژو دروازه دائم برسیره دي؛ بلکې داسې وختونه شته چې روژه نیول په کې زیات فضیلت لري. د شوال المکرم شپږ روژې ځانگړی فضیلت لري. په هره هفته کې د دوشنبې او پنجشنبې روژو نیول خورا فضیلت لري. د هرې میاشت دیارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاریخونو کې روژه نیول مستحب عمل دی.

په حديث شريف کې راځي: (عن أَبي أيوب - رضي الله عنه - : أَنَّ رسولَ الله - صلى الله عليه وسلم - ، قَالَ : مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتّاً مِنْ شَوَّالٍ ، كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ) رواه مسلم .

ژباړه: د ابو ايوب انصاري رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې د رمضان المبارک مياشت روژې ونيسي او بيا ورپسې د شوال مياشت شپږ روژې ونيسي ، دا داسې ده لکه د ټول کال يا د ټول عمر روژه.

ددې حديث په معنا کې محدثين ليکي: چې دهرې مياشتې روژې اجر يو په لس دی چې درمضان د يوې مياشت روژې دلسو مياشتو داجر سره برابره دي او د شوال شپږو ورځو روژې اجر د دوه مياشتو د اجر سره برابرې دي چې جمله دولس مياشتې کيږي. (العرف الشذي للكشميري)

د شوال په روژو کې تسلسل شرط نه دی، که چيرې هره ورځ مسلسل روژې نه شو نيولای کولای شو چې د شوال په مختلفو ورځو کې روژې ونيسو.

- **د ددوشنبې او پنجشنبې روژه:**

همدا راز ددوشنبې او پنجشنبې ورځ روژې نيول مستحب عمل دی او په احاديثو کې يې په اړه زيات ترغيب راغلی دی. مونږ بايد کوښښ وکړو چې ددغو ورځو روژې ونيسو.

په يوحديث کې ددوشنبې ورځ دروژو دفضيلت په اړه داسې راغلي دي: (عن أَبي قتادة - رضي الله عنه - : أَنَّ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - سُئِلَ عَنْ صَومِ يَوْمِ الإثْنَيْنِ ، فَقَالَ : ذَلِكَ يَومٌ وُلِدْتُ فِيهِ ، وَيَومٌ بُعِثْتُ، أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ ) رواه مسلم .

ترجمه: دابو قتاده رضی الله عنه څخه روايت دی چې درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د دوشنبې په ورځ د روژې د نيولو په اړه پوښتنه وشوه پيغمبرعله السلام ورته وفرمايل: داغه ورځ ده چې زه په کې پيدا شوی يم او په همدې ورځ په پيغمبرئ مبعوث شوی يم او يا دا چې په ما باندې وحي نازل شوی ده.

په يو بل حديث شريف کې راځي: ( وعن أَبي هريرة - رضي الله عنه - ، عن رسول الله - صلى الله عليه وسلم - ، قَالَ : تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَومَ الإثْنَيْنِ وَالخَمِيسِ ، فَأُحِبُّ أنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأنَا صَائِمٌ ) رواه الترمذي

ترجمه: دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ددوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې الله جل جلاله ته دبندګانو عملونه وړاندې کيږي، زه دا غوره ګڼم چې زما عمل په داسې حالت کې الله تعالی ته وړاندې شي چې زه روژه يم.

- **د هرې مياشتې د ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ روژې :**

همدا راز کوښښ وکړو چې د هرې مياشت دايام البيض( ديارلسم، څوارلسم او پنځلسم تاريخ) مستحب روژې ونيسو.(هنديه)

په احاديثو کې ددې ورځو د روژو په اړه خورا فضيلت بيان شوی دی.

په يو حديث شريف کې راځي: (وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما ، قَالَ : قَالَ رسول الله - صلى الله عليه وسلم - : صَوْمُ ثَلاَثَةِ أيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ صَوْمُ الدَّهْرِ كُلِّهِ ) متفق عَلَيْهِ .

ترجمه: د عبدالله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د هری مياشت په دری ورځو کې روژه د ټول عمر دروژو سره برابره ده.

**د اختر په ورځ کې د لاندې کارونو څخه ځان ساتل په کاردي:**

1. د ږیری خریل، دغیرمسلمو په شان دسر ویښتان جوړول هغه څه دي چې بایدمسلمانان ورڅخه ځانونه وساتي.
2. داختر په ورځ د هغه چا کورته د تعزیې لپاره ورتلل چې دهغوی په کورکې مخکې مړی شوی وي؛ درست کار نه دی او په اختر کې دغم بیا را تازه کول دشریعت خلاف عمل دی، باید له دې څخه ځان وساتل شي.
3. د اختر په ورځو کې دښځو او سړو د مختلط مجلسونو څخه ځان ساتل.
4. په اخترونو کې د سندرو او ډول وهلو او نورو منکراتو څخه ځان ساتل.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

تقبل الله منا ومنکم صالح الاعمال